# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# د کوهی په غاړه ښځه

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



کله عیسی مسیح او د هغۀ شاګردانو په سامریه کښې سفر کولو، نو هغوئ سوخار نومې ښاره ته راغلل.



نو هلته کښې یو کوهے وو او د سوخار خلقو به د هغه
کوهی د څښلو د پاره اوبه وړلې. دا کوهے ډېره موده
مخکښې د بنی اسرائیلو پلار، یعقوب کنستلے وو.



3

دا د غرمې وخت وو او عیسی د سفر نه ډېر زیات ستړے
شوے وو نو هغۀ هغه کوهی سره د آرام د پاره کېښناستلو.
او د هغۀ شاګرد د خوراک اخستلو د پاره ښار ته تلی وو.



4

عیسی مسیح د لږ وخت د پاره یواځې وو.
نو په دغه وخت کښې د سوُخار یوه ښځه
د اوبو راوښکلو د پاره
راغله. نو عیسی مسیح
هغې ته ووئیل چې
ما له اوبه راکړه.



5

نو هغه ښځه حېرانه شوه او وې وئیل چې تۀ یو یهودی زما
غوندې سامری ښځې نه د څښلو اوبۀ څنګه غواړې؟ هغې
ځکه داسې ووئیل چې یهودیان د
سامریانو سره څۀ نۀ شریکوی.



6

کېدے شی چې هغه نوره هم
حېرانه شوې وی چې کله
ورته عیسی مسیح ووئیل،
کۀ تا ته پته وه چې ستا نه
څوک اوبه غواړی نو دا
څوک دے. نو تا به د هغۀ
نه دا خواست کړے وو او
هغۀ به تا له د ژوندون اوبه
درکړې وې.



7



ښځې هغۀ ته ووئیل چې، ”سرِیه، تا سره خو بوقه هم
نشته او دا کوهے ژور دے، نو تۀ به د کوم ځائ نه ما له د
ژوندون اوبۀ راوړې؟ ۱۲ولې تۀ زمونږ د نیکۀ یعقوب نه
لوئ سړے یې څۀ، چا چې مونږ له دا کوهے راکړو؟“

8

عیسیٰ هغې ته وفرمائیل، ”هر هغه څوک چې دا اوبهٔ وڅښی هغه به بیا هم تږے کیږی. خو چې څوک هغه اوبهٔ وڅښی چې زهٔ یې ورکوم هغه به هیڅکله نهٔ تږے کیږی. زهٔ چې کومې اوبهٔ ورکوم هغه به په هغوئ کښې دننه لکه یوه چینه وګرځی چې همېشه به بهیږی او چې د تل ژوندون ورکوی.“ ښځې ورته ووئیل، ”سرِیه، هغه اوبهٔ ما له راکړه.“



9

ښځې هغهٔ ته ووئیل، مالِکه، ما ته ښکاری چې تهٔ نبی یې. او هغې عیسی مسیح سره د خبرو کولو کوشش وکړه او ورته یې ووئیل چې مونږ د خدائ پاک عبادت په کوم ځائ کښې وکړو. په یروشلم کښې یا د سامریانو په مقدس غر باندې. عیسې هغې ته ووئیل چې رښتینی عبادت کوونکی به د پلار ته په روح او په رښتیا سره عبادت وکړی.



10

ښځې جواب ورکړو، ما ته پته ده چې مسح کړے شوے، یعنې مسیح راتلونکے دے. هر کله چې هغه راشی نو هغه به مونږ ته هر څهٔ بیان کړی. عیسی مسیح ورته ووئیل چې هغه زهٔ یم، چې تا سره خبرې کوم. په دغه وخت کښې د هغهٔ مریدان واپس راغلل. نو ښځې خپل منګے پرېښودو او ښار ته یې واپس منډه کړه.



11

راشئ، یو داسې سړے ووینئ چې ما څهٔ کړی وو هغه ټول یې راته ووئیل. هغه ښځې د سوُخار ټولو سړو ته دا هر څهٔ ووئیل. کېدے شی چې دا مسیح وی؟ نو خلق د ښار نه راووتل او د عیسی طرف ته راوان شول.



12

په دې دوران کښې مریدانو په هغهٔ زور راوړلو چې، استاذه لږه څهٔ خوره. عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل چې، ”زما خوراک څښناک دا دے چې زهٔ د هغهٔ رضا وکړم چا چې زهٔ رالیږلے یم او چې د هغهٔ کار پوره کړم.“ د هغهٔ کار دا وو چې خلق د خدائ پاک طرف ته راوګرځئ.



13

د هغه ښار ډېرو سامریانو په عیسیٰ ایمان راوړو د هغه ښځې د ګواهی په وجه چې، ”دهٔ ما ته هغه هر څهٔ ووئیل څهٔ چې ما کله هم کړی وُو.“ نو کله چې سامریان هغهٔ له راغلل نو مِنت یې ورته وکړو چې مونږ سره پاتې شه، نو هغه هلته دوه ورځې ایسار شو.



14

د هغه ښار ډېرو سامريانو په عيسیٰ ايمان راوړو د هغه ښځې د ګواهئ په وجه چې، "دهٔ ما ته هغه هر څهٔ ووئيل څهٔ چې ما کله هم کړی وُو." نو کله چې سامريان هغهٔ له راغلل نو مِنت يې ورته وکړو چې مونږ سره پاتې شه، نو هغه هلته دوه ورځې ايسار شو.





او د عيسی مسيح د کلام په وجه باندې نورو ډېرو په هغهٔ باندې ايمان راوړلو. او هغوئ ووئيل. مونږ اوس په خپله د هغهٔ واورېدل او مونږ ته پته ولګېده چې دے په حقيقت کښې د دُنيا خلاصونکے دے.





د کوهی په غاړه ښځه

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

يوحنا ٤

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."

زبور 130:119



# ختم شو

47 60



دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغهٔ خپل يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کهٔ تهٔ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زهٔ ايمان لرم چې هم تهٔ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا٣:١٢